




---

د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » لیکنه

د نشر نیټه : اول سپتامبر 2023 میلادی

# د متصوف متانت او ښه سلوک !

ابن سینا د عارف د متانت او ښه سلوک په هکله یادونې کړې او د ده د ښه عالي او برجسته او صافو او کرکټرونو توصیف کوي وایې:

« متصوف پوره حوصله او متانت لري ، د ناوړې کارونو په لیدو نه بې حوصلې کیږي بلکې د صلې او عاطفې ښځه کار اخلي ، د چا د نقصان او تاوان لپاره کار نه کوي بلکې د هرچا سره ډیرې مهربانۍ او اخلاص حرکت کول غواړي. »

حقیقت دادی چه ریښتیني متصوف د خلکو سره داسې صمیمي مګري دي کوم چې تل د هغوی د خیر او سعادت لپاره کارکوي او د خلکو د خدمت او رضایت په وسیله خپلو لوړو او عالي اهدافو ته ځان رسوي .

عمومي حقیقي صوفیان او عارفان ځومره چې خلکو ته زیات خیر او منفعت رسوي بیا هم ځان مقصر ګڼي او بې د کومې طمعې، توقع او احسان اچولو ښځه ځومره چې یې دلاسه کیږي فایده او خیر رسوي.

د حقیقي صوفي او عارف سره چې لږ احسان وشي ډیر ورته ښکاري او په زیات یې حسابوي ، د چا احسان نه هیروي او د بدل ورکولو په فکر او ذکر کې وي.
د عارف معامله د خلکو سره په اخلاص او صمیمیت چلند لري او تل د ښې ګذارې او ښه سلوک او پوره لورنې ښځه کار اخلي .

همدا وجه ده چې حقیقي عارف جاذبوی طاقت لري ، خلک و رباندې ټولیږي او د رهبرې اوصاف لري. دې د خلکو سره مینه او خلک د ده سره اخلاص لري .
دی خلکو ته لیاربښونه او ښې مشورې ورکوي او خلک ورته عقیده او ورباندې باور لرې چې د ده نیت او عمل پاک او سو چه دی.

***

مولانا « سعیدافغاني »

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی»

www.said-afghani.org – بازګشت به صفحه اصلی